**د لوړو زده کړو وزارت**
**د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون**
**د پلان او پالیسی عمومي مدیریت**

# د ۱۴۰۱ لمریز کال د تطبیقي پلان راپور

وزارت ته د لېږد نېټه
۱۴۴۷/۱۱/۱۷هـ ق
د لېږد شمېره:

# د مطالبو لړلیک


1. سریزه ........ 2
2. د راپور لنډیز ........ 2
3. د پلان سویو فعالیتونو د څرنګوالي راپور ........ 3
4. د ناپلان سویو اجرایوي فعالیتونو راپور ........ 11
5. لاسته راوړني ........ 12
6. عمده ستونزي او هڅوی ته د رسېدو حللاري ........ 13
7. د علمي کادر غړو، محصلانو، کارمندانو او مستخدمینو احصائیه ........ 13
7.1. علمي کادر غړي ........ 13
7.2. محصلان ........ 13
7.3. کارکوونکي ........ 14
7.4. مستخدمین ........ 14
8. مالي برخه: ........ 14
8.1. بودجه ........ 14
8.2. عواید ........ 14
8.3. مصارفات ........ 15
8.4. صورت حساب او کلنی مالي راپور ........ 15
9. پایله ........ 16

## 1. سریزه

ستراتیژیک پلان هغه اړین سند دئ، چې سازمانونه او بنسټونه یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره جوړوي او د نورو پلانونو لپاره د مور حیثیت لري، چې د ارګان د هر کارمند هدف او تګلاره ټاکي، ترڅو خپلو ټاکل سویو موخو ته ډېر ژر او په ټاکلي وخت ځان ورسوي.
ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو لپاره اړینه ده، چې د سازمان ټولي کړني د رهبرۍ له ماموریت سره همږغي وي. د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په خپل اداري جوړښت کي مسلکي او متعهد پرسونل لري، چې د پوهنتون اداري اغېزمنتیا یې تضمین کړې ده. د پوهنتون مشرتابه په پوهنتون کي د ماموریت او ستراتیژیکو اهدافو پر لاسته راوړلو تمرکز کوي او هر اداري کارمند په دوامداره توګه د خپلو کړنو د پیاوړتیا او اغېزمنتیا لپاره کار کوي. کلنی کاري پلان ترتیبوي، ترڅو وکولای سي، له دې لاري د پنځه کلن ستراتیژیک پلان موخي لاسته راوړي.
د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون چې په (۱۴۰۱) لمریز کال کي یې پنځه کلن ستراتیژیک پلان جوړ کړی، چې د لمړي عملیاتي پلان( ۱۴۰۱) لمریز کال کي (۵) عمومي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره یې(٦٢) فرعي اهداف پلان کړي وه، چې د هغو له جملې څخه یې( ۵۲) اهداف تر لاسه کړي، (۸) فعالیت تر کار لاندي دی، (۲) فعالیتونه ځنډېدلي او هماغه ځنډېدلي فعالیتونه تر اوسه پوري راپیل سوي نه دي. د تر سره سویو فعالیتونو له جملې څخه د څېړنو، اکاډمیکو فعالیتونو، اداري اصلاحاتو، نصاب، تضمین کیفیت او لوړاوي، برېښنایي زده کړو، بنسټیزو تاسیساتو، ظرفیت لوړونه او لوړو زده کړو په ترویج کي زیاتي لاسته راوړني لري، چې د دې لاسته راوړنو لپاره یې زیاتي هلي ـ ځلي کړې دي.

## 2. د راپور لنډیز

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په ۱۴۰۱ لمریز کال کي ۵ عمومي ستراتیژیک اهداف چې د وزارت د عمومي اهدافو سره مطابقت لري، پلان کړل، د یادو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره یې لا له مخي ٦٢ فرعي اهداف ټاکلي وه، چې د پلان سویو اهدافو له جملې څخه یي ۵۲ اهداف تر لاسه کړي، یوه موخه تر کار لاندي، ۲ موخي یې ځنډېدلي او پاتي ۸ موخي یې تر کار لاندي دي، چې د سلني په لحاظ سره یاد تطبیقي پلان ۸۴ سلنه تطبیق سوی او د پرمختګ کچې ته رسېدلی او پاتي ١٦ سلنه به یې په ۱۴۰۲ لمریز کال کي شرایطو ته په کتو سره تطبیق او عملي کړای سي.

| د کلني پلان سویو فعالیتونو مجموعه | د بشپړ سویو فعالیتونو شمېر | تر کار لاندي فعالیتونه | د ځنډېدولو فعالیتونو مجموعه | د ناپیل سویو فعالیتونو مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| ٦٢ | ۵۲ | ۸ | ۲ | ۲ |

## 3. د پلان سویو فعالیتونو د څرنګوالی راپور

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پېل کېدو، ځنډېدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| 1. | په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل | 1.د هېواد قوانینو او د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیو ته په پام سره خپلې چارې ترسره کول او د فساد پر وړاندي مبارزه کول | ټول اداري واحدونه او کمیټې | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د لوړو زده کړو محترم وزارت لـه لـوري راغـلي قـوانـین او اصـــول د اداراتو او کمېټو په سـطحه باندي سـل فیصـده تطبیق سوي دي. | | |
| 2. | | 2. د رهبري په برخه کښي د اړتیا وړ ورکشاپونه، ترینګونه او نورې مسلکي ښوونیزي برنامې پلي کول | رهبري غړو لپاره | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د رهبري د غړو د ضرورت سره ســم د کال په جریان کي د ظرفیـت لوړوني پروګرامونـه دایر سوي دي. | | |
| 3. | | 3. د استادانو او محصلانو لپاره د بریښنایي وسایلو مکمل کول | محصلان | ۱۰۰٪ | ۵۰ | ۵۰٪ | په کندهار ولایت کي موجود وسـایل تر لاسـه سـوي د پاته لپاره پلان جوړ او په راتلونکي کـال بـه پـه تطبیق بـانـدي ورسیږي. | ځیني وسایل په کندهار ولایت کي د پیدا کېدو وړ نه دي، نو ځکه ځنډېدلی دی. | |
| 4. | | 4. د پوهنتون د علمي کادر غړو لپاره د هېواد به داخل او له هېواد څخه بهرتحصیلي او روزنیزو پروګرامونو برابرول | استادان | ۱۰۰٪ | ۵۰ | ۵۰٪ | د امکان تر حده پوري د لوړو زده کـړو وزارت د مـوافـقــې مطابق د هیواد څخه علمي کادر غړو ته د زده کړو زمینه مساعده سوې ده. | د علمي کـادر ځیني غړي د لوړو زده کړو وزارت موافقې ته په طمعه او چاري به یي په راتلونکي کـال کي بشـــپړي سي. | |
| 5. | | 5. د نظري زده کړو په څنګ کي عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول | محصلان او استادان | ۱۰۰٪ | ۵۰ | ۵۰٪ | د زراعت په برخه کي عملي زده کړي ترسره سوي. | د مالداري‌برخي عملي زده کړي د تدارکاتي چارو نهایي کېدو ته معطله دي. | |

| شمیره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پلي کېدو، ځنډ ېدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کیفیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6. | په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل | 6. محصیلنو، اداري او علمي کادر غړو ته د کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوي ورکول | کیفیت لوړاوي | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | د کیفیت د لوړاوي د معیارونو په برخه کي کارکوونکو ته پوره پوهاوی ورکول سوی دی. | | |
| 7. | | 7. د بریښنایي زده کړو او کارونې په موخه د محصلینو رزونه | محصلان | ۱۰سمینارونه | ۱۰ | ۱۰۰٪ | محصلانو ته د برېښنایي زده کړو په برخه کي روزنه ورکول سوې ده. | | |
| 8. | | 8. د علمي کادر غړو ته به ماستري او دوکتورا پروګرامونو کي د زده کړو زمینه برابرول. | علمي کادر غړي | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | د علمي کادر غړو د اړتیا او غوښتني په صورت کي فوق لیسانس او دوکتورا زده کړو زمینه برابره سوې ده. | | |
| 9. | | 9. پوهنتون کادري، اداري او خدماتي غړیو ته د اروا پوهنې نویو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصر و تخنیکونو برابرول | د کادري او اداري پروسونل روزل | ۱۰۰٪ | ۵۰٪ | ۵۰٪ | د پلان مطابق ۵۰ سلنه اداري کارکوونکو ته په ذکر سویو برخو کي زده کړو او ظرفیت لوړوني خدمات چمتو سوي دي. | | |
| 10. | | 10. د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل | د اداري پروسونل روزنه | ۲ سمینارونه | ۲ | ۱۰۰٪ | د ستراتیژیک د ښه تطبیق په موخه باندي دوه ځلي د ستراتیژیک پلان سمینار ارائیه سوی دی. | | |
| 11. | | 11. د پوهنتون کادري او اداري کار کونکو ته د لنډ مهاله علمي او تجربوي سفرونو تهیه | علمي سفرونه | ۵ | ۲ | ۴۰٪ | د لابراتوار په برخه کي د اړتیا مطابق دوه علمي سفرونه برابر سوي دي. | د ځینو ستونزو له کبله نور سفرونه ځنډېدلي، چي په راتلونکي کال به ترسره سي. | |
| 12. | | 12. د تر سره سویو توامیتونو او اړیکو څخه د پوهنتون په هر اړخیز پرمختګ کي موثره ګټه پورته کول | د توامیتونو څخه استفاده کول | ۱۵ توامینونه څخه استفاده کول | ۱۴ | ۹۳٪ | د ضرورت سره سم د ټولو توامیتونو څخه اعظمي استفاده سوې ده. | | |

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کې د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کې د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندې کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پیل کېدو، ځنډ، بدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **.13** | په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل | 13. دوخت او ټولني د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرامونو ایجادول | د نوي علمي پروګرامونو ایجاد | ۲ | ۰ | ۰٪ | | د نظر سنجی په صورت کې پوهنځیاني انتخاب او پیشنهاد چاري یې ځنډېدلي دي. | |
| **.14** | | 14. د کریدیت سیستم پیاوړتیا او پلي کول | د کریدیټ سیستم پیاوړتیا | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | کریډیټ سیستم سل فیصده تطبیق سوی او راپورونه یې شریک سوي دي. | | |
| **.15** | د څېړنې، تولید او ترویج له لارې د کرنې او مالداري سکتور پیاوړی کول | **15.** پوهنتون او پوهنځیو به سطحه د ملي ژورنالونو لپاره د عمومي دیتابیس او ویب سایت رامینځته کول او ټول ملي ژورنالونه انلاین کول | د ویب سایټ جوړول | ۲۰ سلنه بشپړول | ۲۰ | ۱۰۰٪ | د پلان سره د ویب سایټ چاري ۲۰ سلنه بشپړي سوي دي. | | |
| **.16** | | **16.** د نوښتګرو ځوانانو له پاره د لازمې او ضروري روزنیز پروګرامونه، تشویقي لارښووني، مادي او معنوي امکانات، تکنالوژۍ او د مقالو د نشر سهولتونه آماده کول. | نشراتو چاري اماده کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د ځوانانو د ښه روزني په موخه باندي لازم پروګرامونه دایر سوي او په لاره اچول سوي دي. | | |
| **.17** | | **17.** د فوق لسانس د څلورو پروګرامونو فعاله کول | فوق لیسانس زده کړو خدمات برابرول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د فوق لیسانس څلور برنامې ایجاد او د نور د دې برنامو د پراختیا په برخه کې کارونه مخته روان دي. | | |
| **.18** | | **18.** په سکتور کې د ترویجې پروګرامونو تقویت او عملیاتي کړنې | د خدماتو تقویه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د ترویجي خدماتو تقویه کې بهبود راغلی، نور به هم په یاده برخه کې بهبود راوستل سي. | | |

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سـوي فعالیت اندازه | تر لاســه سـوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پلي کېدو، ځنډېدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .19 | | 19. د سمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو سمپوزیمونو او ښوونیزو کورسونو دایرول. | ظرفیت لوړونه | ۸۰ پروگرامونه | ۸۰ | ۱۰۰٪ | د پلان سره سم د ظرفیت لوړوني ټول پروگرامونه دایر سوي دي. | | |
| .20 | | 20. د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب | مرستو تر لاسه کول | ۱۰ مرستي | ۱۰ | ۱۰۰٪ | د پلان سره سم د مرستي تر لاسه سوي دي. | | |
| .21 | | 21. د پوهنتون له داخلي عایداتي منابعو څخه د عواید و را ټولول | د عوایدو تر لاسه کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د فوق لیسانس د څمکو د ایجارې په برخه کي پلان سوي عواید تر لاسه سوي دي. | | |
| .22 | | 22. له هر ډول توپیر پرته هیواد والو ته به مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول | د حقوقو رسول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د پوهنتون ټولو ګډونوالو ته مساویانه حقوق رسېدلي دي. | | |
| .23 | | 23. د ټولنې او اړونده خواوو سره د لاسته راوړنو شریکول | د لاسته راوړنو | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د ټولني د سکتوري اداراتو سره لاسته راوړني شریکي او همکارۍ ډاډ ورکول سوی دی. | | |
| .24 | د علمي او تحصیلي چارو په برخه کښې په ملي او نړیوالو معیارونو سره د پوهنتون عیارول | **24.** د پوهنتون په سطحه د مرکزي لابراتوار ایجاد او معیاري وسایلو د هغوي تجهیز | د وسایلو تجهیز | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د پوهنتون په سطحه باندي عمومي لابراتوار تنظیم او په وسایلو تجهیز سوی دی. | | |
| .25 | | **25.** د استادانو او محصلینو تحقیقاتو لپاره مالي او امکانات برابرول | د مالي امکاناتو برابرول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د استادانو او محصلانو د څېړنو لپاره امکانات په واک کي ورکول سوي دي. | | |
| .26 | | **26.** حیواني او نباتي محصولات بازار ته وړاندي کول | بازارمونه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | حیواني او نباتي محصولاتو لپاره بازار موندنه سوې ده. | | |

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کې د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کې د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندې کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پېل کېدو، ځنډ بدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کیفیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .27 | د علمي او تحصیلي چارو په برخه کښې په ملي او نړیوالو معیارونو سره د پوهنتون عیاروړل | **.27** سیمه ایزه او نړیوالو خېرنیزو چار په بدل کې عایدات ترلا سه کول | عایدات ترلاسه کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د ترسره سوي خېړنو په صورت کې عایدات په لاس راغلي دي. | | |
| .28 | | **.28** د پوهنتون کرنیزه مځکه په اجاره ور کول | د ځمکو اجاره | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د غوښتني سره سم د پوهنتون ځمکې په اجاره ورکول سوي دي. | | |
| .29 | | **.29** د استادانو، محصلانو د پیژوندګلوي، خېړونو او نورو اسنادو لپاره ډاټابیسونه جوړول | د ډاټا بیسونو جوړول | ۱ | ۰,۵۰ | ۵۰٪ | وړاندیز سوی ډاټابیس چاري ۵۰ سلنه بشپړي سوي دي. | پاتي چاري به یې په راتلونکي کال کې بشپړي سي. | |
| .30 | | **.30** د پوهنتون د ستراتېژیکو موخو د تمویل او لاسته راوړنې لپاره د پوهنځیو ، کمیټو او څانګو تر منځ همغږي | همغږي کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د چارو د منظم اجراآ په موخه با ندي د پوهنتون او پوهنځیو ترمنځ د همغږۍ رامنځته سوې ده. | | |
| .31 | | **.31** د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون په وسیله د تضمین کیفیت پروسي څارنه او ارزونه | د کیفیت د لوړاوي چارو | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د کیفیت د لوړاوي چوکاټ تطبیق سوی دی او دوامداره نظارت یي ترسره کېږي. | | |
| .32 | | **.32** په اداري فعالیتونو کې شفافیت او دقت | دقت او شفافیت | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | په اداري برخو کې دقت او شفافیت په وجود راغلی دی. | | |
| .33 | | **.33** د څارنې او ارزونې لپاره د څانګړو کمیټو را منځته کول | د کمیټو ایجاد | ۱ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د څارني او ارزوني کمېټه ایجاد او خپل مسؤلیت یي آدا کړی دی. | | |
| .34 | | **.34** د څارني کمېټې په وسیله د اړونده پروسي خد ماتي څار نه او ارزونه | څارنه او نظارت | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د څارني د کمېټو په وسیله د پوهنتون د ټولو برخو څارنه سوې ده. | | |

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پوره کېدو، ځنډ بدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .35 | د علمي او تحصیلي چارو په برخه کښې په ملي او نړیوالو معیارونو سره د پوهنتون عیاروول | **.35** د برېښنایي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدو څخه بشپړه څارنه | نظارت | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د برېښنایي خدماتو بشپړه نظارت ترسره سوی دی. | | |
| .36 | | **.36** معلوماتي ټکنالوژي ته لاسرسي | برېښنايي خدمات | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | معلوماتي ټکنالوژي ته بشپړه لاسرسي امکانات چمتوسوي دي. | | |
| .37 | | **.37** د غوره زده کړې او ښوونې د زياتېدنې او وده ورکونې په موخه د (online) لپاره اسانتياوو برابرول | برېښنايي خدمات | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د انلاين زده کړو په برخه کي اسانتياوي برابري سوي دي. | | |
| .38 | | **.38** استادانو، کارمندانو او محصلانو ته د انګريزي او نورو بهرنيو ژبو د روزنې اسانتيا برابرول. | د ژبو خدمات | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د محصلانو د ژبو زده کړو په برخه کي لازم تدابير نيول سوي او عملي سوي دي. | | |
| .39 | | **.39** د لوړو زده کړو وزارت سره د تقنيني اسنادو د تدوين طرحي وړاندي کول | طرحو وړاندي کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د وزارت د غوښتني سره سم تقنيني اسناد چمتو سوي او لېږل سوي دي. | | |
| .40 | | **.40** په خپله کاري ساحه کي به تقنيني او تخنيکي اسنادو کي دهر ډول ابهام او اغلاق د موجوديت به صورت کي به لوړو او واکمنو مقاماتو ته د اړوندو اسنادو د بيا کتني، تعديل او تدوين طرحي وړانديز کول | طرحو وړاندي کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د ضرورت سره سم طرحي پيشنهاد سوي او دوامداره تعقيب سوي دي. | | |
| .41 | | **.41** په پوهنتون کي د تقنين څانګړې کميته را منځته کول | د اصولو تطبيق | ۱ | ۰,۵۰ | ۵۰٪ | په پوهنتون د تقنين کمېټې لمړنۍ چاري نهايي سوي دي. | پاتي ۵۰ سلنه چاري به يي په راتلونکي کال کي بشپړي سي. | |

| شمیره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پلي کېدو، ځنډ بدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 42. | د علمي او تحصیلي چارو په برخه کښي په ملي او نړیوالو معیارونو سره د پوهنتون عیاروول | **42.** پوهنتون شموله کمپیوتر پراختیا او ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول | د خدماتو پراختیا | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د پوهنتون په سطحه باندي د ټولو کمپیوټرونو په برخه کي پراختیا راغلې ده او لازمي اسانتیاوي رامنځته سوي دي. | | |
| 43. | | **43.** د رهبري پر هڅو د امکان تر بریده د نړیوالو او سیمه ییزو پوهنتونونو او ادارو څخه د تواميت له مخې د مرستو جلبول | د مرستو تر لاسه کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د پوهنتون رهبري د توان مطابق د اداراتو او وزارت مقام څخه مرستې تر لاسه کړي دي. | | |
| 44. | | **44.** له دولتي اړونده ادارو څخه د هر اړخیزو مرستو ترلاسه کول | د مرستو تر سره کول | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د دولتي اداراتو څخه د امکان ترحده مرستي تر لاسه سوي دي. | | |
| 45. | | **45.** د وړتیا او ظرفیت په پام کي نیولو سره بېلابېلو علمي پروګرامونه ته د محصلینو ورپیژندل | د نویو محصلانو معرفت | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | نوي محصلانو ته د پوهنتون پیژندني پروګرامونه دایرسوي دي. | | |
| 46. | د کرهنې او مالداري په برخو کې د نوي تکنالوژۍ ترویجول | **46.** د پوهنتون په سطحه د ملي او بین المللي کنفرانسونو دایرول | ظرفیت لوړونه | ۱ | ۰ | ۰٪ | | یاد کنفرانس د وزارت مقام په غوښتنه راتلونکي کال ته معطله سو. | |
| 47. | | **47.** د برېښنایي زده کړو فعالیت او ظرفیت ته پراختیا ورکول | ظرفیت لوړونه | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د برېښنایي خدماتو او زده کړو په برخه کي پراختیا راغلې ده. | | |
| 48. | | **48.** د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړو ته د ورکشاپونو برابرول، | ظرفیت لوړونه | ۵ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د علمي کادر غړو ته د برېښنایي زده کړو په برخه کي پروګرامونه دایر سوي دي. | | |
| 49. | | **49.** په ټولو اداري دفترونو کي ډیجېټل تلیفون اسانتیاوې را منځته کول | تجهیزات | ۱۰۰٪ | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د اداراتو تر منځ د روابطو په برخه اسانتیا رامنځته سوې ده. | | |

| شمیره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سوي فعالیت اندازه | تر لاسه سوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پلي کېدو، ځنډېدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .50 | د ودانیو پراختیا او تجهیز کول | **.50** ټولنیزو او ساینسي علومو لپاره د څېړنیز مرکز او اداره ایجادول | ودانیزي چاري | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | څېړنیز مرکز ایجاد سوی او د لا پرمختګ په موخه باندي یې چاري مخته رواني دي. | | |
| .51 | | **.51** د برېښنائي زده کړو او معلوماتي تکنالوژي لپاره زیربناوو ایجاد او فعال کول | ودانیزي او تجهیزاتو برخه | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | معلوماتي ټکنالوژي سیستم سل فیصده فعاله سوی او نور د یاد سیستم د تجهیز لپاره چاري رواني دي. | | |
| .52 | | **.52** د پوهنتون د ریاست او اداري کمپلکس لپاره وداني جوړول | ودانیزي چاري | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | اداري وداني جوړي او نور هم د ترمیم چاري مخته رواني دي. | | |
| .53 | | **.53** د پوهنځیو تدریسي او اداري ودانیو جوړول | ودانیزي چاري | ۱ | ۱ | ۱۰۰٪ | تدریسي وداني جوړي او نور هم د ترمیم چاري مخته رواني دي. | | |
| .54 | | **.54** د محصلینو د روغتیایي چارو د غوره والي په موخه د یو پرمختللي او پر وسایلو سمبال صحي کلینک وداني ودانول | ودانیزي چاري | ۱ باب کلینک | ۱۰٪ | ۱۰٪ | د صحي کلینک د جوړېدو په موخه باندي لمړنۍ چاري یې ترسره سوي دي. | د کلنیک ودانیز چاري د تدارکاتي چارو په برخه کي د ځنډ له امله معطله سوي دي. | |
| .55 | | **.55** د شخصي وسایطو تم کولو په موخه د تمځایونو جوړول | ودانیزي چاري | د وسایطو ۲ تمځایونه جوړول | ۵۰٪ | ۵۰٪ | د وسایطو د تمځایونو د جوړېدو په موخه باندي لمړنۍ چاري یې ترسره سوي دي. | د وسایطو د تمځایونو ودانیز چاري د تدارکاتي چارو په برخه کي د ځنډ له امله معطله سوي دي. | |
| .56 | | **.56** د پوهنتون لپاره د اوبو رسولو سیستم جوړول | اوبو رسولو چاري | د اوبو رسولو چاري | ۱۰۰ | ۱۰۰٪ | د پوهنتون په داخل کي د ټولو سرسبزیو د اوبو لګولو سیستم جوړ سوی دی. | | |

| شمېره | اساسي اهداف | عمده فعالیتونه | برخه | د کال په جریان کي د پلان سوي هدف اندازه | د کال په جریان کي د تطبیق سـوي فعالیت اندازه | تر لاســه سـوي هدف فیصدي | د تر سره سوي فعالیت تفصیلي معلوماتو وړاندي کول | د پلان مطابق د فعالیتونو د نه پېل کېدو، ځنډېدلو او نه بشپړونکي اجراآتو دلایل | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| .57 | د ودانیو پراختیا او تجهیز کول | 57. د شــته ودانیو رغو نه او ترمیم ترسره کول | ترمیم جاري | د ودانیو د ترمیم چاري | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د شــته ودانیو ترمیم او رغوني چاري ترسره سوي دي. | | |
| .58 | | 58. د پوهنتون د غوندو تالار یوه مجهزه وداني جوړول | ودانیزي جاري | ودانیزي چاري | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د غونډو د تالار ودانۍ مجهزه سوې او رغول سوې ده. | | |
| .59 | | 59. د بوتـانیکي بـاغ او ژوبڼ جوړول | زراعت | د ژوبڼ جوړول | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د عملي کار او تحقیق په موخه باندي باغ جوړ سـوی او اماده سوی دی. | | |
| .60 | | 60. مرکزي څېړنیز فارم ودانیو رغونه او پراختیا ورکول | رغنیزي جاري | د ودانیو پراختیا او رغونه | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د مرکزي څېړنیز فـارم ودانیو رغونه ترسره ســوې او پراخه سوي دي. | | |
| .61 | | 61. د پوهنتون مرکزي لابراتور رغول او پراختیا ورکول | تجهیزات | د ودانیو پراختیا او رغونه | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د پوهنتون مرکزي لابراتوار د اړتیا سره سم پراخه سوی دی. | | |
| .62 | | 62. د محصــیلینو لپاره د خدمـا تو او اســا نتیـاوو پیـاوړتیـا (لیلیه+جمنازیم+پاکي اوبه) | محصلان | د ودانیو پراختیا او رغونه | ٪۱۰۰ | ٪۱۰۰ | د محصــلانو لپاره د خدماتو په برخه کي اړتیاوو ته رســېدګي سوې ده. | | |

## 4. د ناپلان سویو اجرایوي فعالیتونو راپور

| شمېره | د هغه فعالیتونو ټولګه چي د پلان برخه نه وي | په پلان کي د نه شمولیت دلایل | کتني |
|---|---|---|---|
| 1) | د پوهنتون رهبري د نورو پوهنتونونو او رهبري افرادو په غوښتنه په عمومي خاصو غونډو کي ګډون کړی دی. | د هغوی د د عوت په اساس یې ګډون کړی دی. | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 2) | د پوهنتونونو او اداراتو د غوښتنې په صورت کې استادان، اداري کارمندان او محصلین د ظرفیت لوړوني پروګرامونو ته لېږدول سوي دي. | د هغوی د خبرتیا په صورت کې یاده کړنه تر سره سوې ده. | |
| 3) | د نویو سمسټرونو د پیلېدو سره سم د استادانو او اداري کارکوونکو سره ګډې ناستې سوي دي. | د اړتیا په صورت کې یاده کړنه تر سره سوې ده. | |
| 4) | د کندهار په سطحه د علماوو لویه غونډه کې ګډون سوی دی. | د هغوی د دعوت په اساس یاده کړنه تر سره سوې ده. | |
| 5) | وزارت ته څو ځلي د رسمي اجراآتو په موخه د رهبري سفرونه سوي دي. | د اړتیا په صورت کې یاد فعالیت په عاجله توګه سره سوی دی. | |
| 6) | د اداري کارکوونکو سره څو ځلي عاجلي د همکارۍ ناستي تر سره سوي دي. | د اړتیا په صورت کې یاد فعالیت په عاجله توګه سره سوی دی. | |
| 7) | د پوهنتون د ټولو کمېټوي چارو تعقیبي راپورونه وخت په وخت جوړ او په علمي شوراګانو کي وړاندي سوي دي. | د اړتیا له مخي یاد فعالیت سوی دی. | |
| 8) | د محصلانو سره د هغوی د مشکلاتو د حل په منظور دایمي ناستي سوي دي. | د اړتیا له مخي یاد فعالیت سوی دی. | |
| 9) | د نویو محصلانو لپاره تشویقي ښه راغلاست پروګرامونه جوړ سوي دي. | د اړتیا له مخي یاد فعالیت سوی دی. | |
| 10) | د محصلانو لپاره بېلا بیل تشویقي پروګرامونه ترتیب سوي دي. | د اړتیا له مخي یاد فعالیت سوی دی. | |

## 5. لاسته راوړني

| شمېره | د لاسته راوړنو برخه |
|---|---|
| 1. | په مجموعي ډول د څلورو مختلفو پوهنځیو څخه سلګونه محصلان ټولني ته د خدمت په موخه وړاندي سوي دي. |
| 2. | ملي او نړیوالي ورځي لمانځل سوي دي.(د معلم نړیواله ورځ، د محصل نړیواله ورځ او ... .) |
| 3. | د کارکوونکو او استادانو ستاینغونډې نیول سوي او کارکوونکي ستایل سوي دي. |
| 4. | د محصلینو ستاینغونډه دایره سوې او محصلین لا نور هم لوړو زده کړو ته هڅول سوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| .5 | د پوهنتون په انګړ کې د شنې ساحې په برخه کې ډېر کار سوی او په سل ګونو نوي نیالګي او چمنیان ایښول سوي دي. |
| .6 | د ظرفیت لوړوني په موخه ځو تنه استادان ماسټرۍ ته استول سوي دي. |
| .7 | د ټولو اداري شعبو د رنګ چاري سوي ده. |

## 6. عمده ستونزي او هغوی ته د رسېدو حللاري

| شمېره | عمده ستونزي | د ستونزو ته د رسېدو حللاري |
|---|---|---|
| 1) | وزارت کله ناکله د راپوروڼو د ادبي الفاظو، لیکني او لهجې په برخه کي نقد او نیوکي کوي. | د افغانستان د هري سیمي پوهنتونونو راپورونه دي د هغې سیمي په لهجه سره تائید کړي. |
| 2) | وزارت کله ناکله زموږ پر فارمټونو او شکلیاتو باندي نقد او تنقید کوي. | د هر فعالیت په موخه چي کله یو چوکاټ (فارمټ)جوړیږي، باید ژر تر ژره تکثیر سي. |
| 3) | وزارت په ځینو مواردو کي د اسنادو په پروسس کي ځنډ کوي. | هر سند باید لږ تر لږه په دریو ورځو کي ځواب (مسترد) او یا هم تائید کړي. |
| 4) | د وزارت پر پاڼه او یا هم عمومي سایټ کي فارمټونه نه پورته کوي. | هر فارمټ باید د یو معلومي او مشخصي پاڼي له لاري د خپلو پوهنتونونو سره شریک کړل سي. |

## 7. د علمي کادر غړو، محصلانو، کارمندانو او مستخدمینو احصائیه

### 7.1. علمي کادر غړي

| د سمسټر ډول | د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کي د مقرر سویو علمي کادر غړو شمېر | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | مجموعه | |
| پسرلني | ۵ | ۰ | ۵ | |
| ژمني | ۳ | ۰ | ۳ | |

### 7.2. محصلان

| د سمسټر ډول | د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کي د نویو جذب سویو محصلانو شمېر | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | مجموعه | |
| پسرلني | ۰ | ۰ | ۰ | |
| ژمني | ۸۸ | ۰ | ۸۸ | |

### 7.3. کارکوونکي

| د سمستېر ډول | د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کي د نویو استخدام سویو کارکوونکو شمېر | | | کتني |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | مجموعه | |
| پسرلني | ۴ | ۰ | ۴ | |
| ژمني | ۳ | ۰ | ۳ | |

### 7.4. مستخدمین

| د سمستېر ډول | د ۱۴۰۱ هـ ش کال په جریان کي د نویو استخدام سویو مستخدمینو شمېر | | | کتني |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | مجموعه | |
| پسرلني | ۵ | ۰ | ۵ | |
| ژمني | ۲ | ۰ | ۲ | |

## 8. مالي برخه:

### 8.1. بودجه

| ډول | بشپړه بودجه | عادي بودجه | پرمختیایي بودجه | **کتني** |
|---|---|---|---|---|
| په ارقامو | ٦٩٠٠٠،٠٠٠ | ٦٩٠٠٠،٠٠٠ | | |
| په حروفو | شپږ سوه نوي میلیونه افغانۍ | شپږ سوه نوي میلیونه افغانۍ | | |

### 8.2. عواید

| شمېره | عایداتي منابع | د تخمین سویو عواید اندازه | مبلغ په حروفو | د لاسته راغلیو عوایدو اندازه | مبلغ په حروفو | **کتني** |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1) | د ځمکو اجاره او فوق لیسانس برنامې فیس | ۰ | | ۰ | | |

### 8.3. مصارفات

| شمېره | د عادي بودجې مصرف سوې اندازه | مبلغ په حروفو | د پرمختيايي بودجې مصرف سوې اندازه | مبلغ په حروفو | بشپړه مصارف | مبلغ په حروفو | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٦٢،۴۵۵،٩٦٣ | دو شپیته میلیونه څلور لکه پنځه پنځوس زره نهه سوه درو شپېته | | | ٦٢،۴۵۵،٩٦٣ | دو شپیته میلیونه څلور لکه پنځه پنځوس زره نهه سوه درو شپېته | |

### 8.4. صورت حساب او کلنی مالي راپور

د افغانستان کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په کال ۱۴۰۱ هـ ش کي د وزارت محترم مقام له لوري ۶۹۰۰۰،۰۰۰ (شپږ سوه نوي میلیونه افغانۍ) بشپړه بودجه تعین سول، چي د پوهنتون خدماتو او اړتیاوو ته په کتو سره ٦٢،۴۵۵،٩٦٣ (دو شپیته میلیونه څلور لکه پنځه پنځوس زره نهه سوه درو شپېته افغانۍ) مصرف سوي دي.

| شمېره | میاشتي | معاشات | په حروفو سره | د معاشاتو تحویل سوې مالیه | په حروفو سره |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ۱۴۰۱ حمل | ۳۷۷۱۰۶۹ | درې میلیونه اووه لکه یو آویا زره نهه شپیته افغانۍ | ۱۹۲۴۷۵ | یو لک دو نوي زره څلور سوه اووه پنځوس افغانۍ |
| 2 | ۱۴۰۱ ثور | ۳۶۶۳۱۲۲ | درې میلیونه شپږ لکه درو شپیته زره یو سلو دوه ویشت افغانۍ | ۱۸۸۷۲۵ | یو لک آته اتیا زره اووه سوه پنځه ویشت افغانۍ |
| 3 | جوزا ۱۴۰۱ | ۳۵۹۴۳۵۲ | درې میلیونه پنځه لکه څلور نوي زره درې سوه دو پنځوس افغانۍ | ۱۷۶۹۵۵ | یو لک شپږ اویا زره نهه سوه پنځه پنځوس افغانۍ |
| 4 | سرطان ۱۴۰۱ | ۳۴۵۱۰۷۸ | درې میلیونه څلور لکه یو پنځوس زره آته آویا افغانۍ | ۱۶۹۶۴۲ | یو لک نهه شپیته زره شپږ سوه دو څلویښت افغانۍ |
| 5 | اسد ۱۴۰۱ | ۳۸۱۶۰۴۷ | درې میلیونه آته لکه شپاړلس زره اووه څلویښت افغانۍ | ۱۹۰۰۴۱ | یو لک نهه زره یو څلویښت افغانۍ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 6 | سنبله ۱۴۰۱ | ۳۵۹۹۸۶۹ | درې میلیونه پنځه لکه نهه نوي زره آته سوه نهه شپیته افغانۍ | ۲۰۲۶۲۹ | دوه لکه دوه زره شپږ سوه نهه ویښت افغانۍ |
| 7 | میزان ۱۴۰۱ | ۳۸۲۴۰۷۸ | درې میلیونه آته لکه څلور ویشت زره آته آویا افغانۍ | ۱۹۵۶۱۰ | یو لک پنځه نوي زره شپږ سوه لس افغانۍ |
| 8 | عقرب ۱۴۰۱ | ۳۵۷۱۷۱۹ | درې میلیونه پنځه لکه یو آویا زره اووه سوه نولس افغانۍ | ۱۷۷۸۹۱ | یو لک اووه آویا زره آته سوه یو نوي افغانۍ |
| 9 | قوس ۱۴۰۱ | ۳۵۷۸۷۷۲ | درې میلیونه پنځه لکه آته آویا زره اووه سوه دو آویا افغانۍ | ۱۷۶۳۰۵ | یو لک شپږ آویا زره درې سوه پنځه افغانۍ |
| 10 | جدي ۱۴۰۱ | ۴۱۱۲۶۷۶ | څلور میلیونه یو لک دولس زره شپږ سوه شپږ آویا افغانۍ | ۲۰۵۱۹۷ | دوه لکه پنځه زره یو سلو نهه آویا افغانۍ |
| 11 | دلو ۱۴۰۱ | ۴۲۳۰۶۲۷ | څلور میلیونه دوه لکه دیرش زره شپږ سوه اووه ویشت افغانۍ | ۲۱۴۷۸۵ | دوه لکه څوارلس زره اووه سوه آته پنځوس افغانۍ |
| 12 | حوت ۱۴۰۱ | ۴۰۲۲۱۴۰ | څلور میلیونه دوه ویشت زره یو سلو څلوېښت افغانۍ | ۲۰۳۸۵۰ | دوه لکه درې زره آته سوه پنځوس افغانۍ |
| جمله معاشات | | ۴۵،۲۳۵،۵۴۹ | پنځه څلوېښت میلیونه دوه لکه پنځه دیرش زره پنځه سوه نهه څلوېښت افغانۍ | ټوټل د معاشاتو مالیه | ۲۲۹۴۱۰۵<br>دوه میلیونه دوه لکه څلور نوي زره یو سلو پنځه افغانۍ |

## 9. پایله

د افغانستان کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون په کال ۱۴۰۱ لمریز کي ډیري زیاتي لاسته راوړني درلودې، چي د خپلو تعین سویو اهدافو له جملې څخه یې ۸۴ سلنه اهداف په لاس راوړي او پرې بریالۍ سوې ده، د یادو اهدافو د تر لاسه کولو په برخه کي د څېړني د پراختیا او د علم د تولید په برخه کي زیاتي هلي ـ ځلي کړي دي. په زراعتي برخه، حیواني برخه او د ټولني د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کي څېړني تر سره کړي، د اداري اصلاحاتو، حکومتولۍ او فساد سره د مبارزې په برخه کي لازم اقدامات کړي، د نصاب په برخه کي د وزارت د غوښتني سره سم نوی نصاب تطبیق او مفردات یې برابر کړي. په پوهنتون کي د کیفیت د لوړوالي په برخه کي لازم اقدام او د وزارت د غوښتني سره سم چوکاټ جوړ سوی، ټولي چاري یې د اصولو په رڼا کي مخته رواني دي. د بنسټیزو تاسیساتو په برخه کي د ټولو صنفونو او اداري واحدونو د ترمیم، شعبو او دهلیزونو ترمیم کاري، د عمومي تعمیر منظمول، د ځینو برخو اساسي جوړول او د تعمیر د باندي عمومي ځایونو جوړښت هغه څه وه، چي په تېر کال کي د بنسټیزو تاسیساتو په رغنیزو برخو کي شمېرل کیږي،

د ظرفیت لوړوني په برخه کي محصلانو، استادانو او اداري کارکوونکو ته په مختلفو وختونو کي د اړتیا مطابق سیمینارونه، ورکشاپونه، کورسونه او ویبنارونه دایر سوي او د ظرفیت لوړوني په موخه یې په مختلفو برخو کي کار سوی دی. د تقنیني اسنادو په برخه کي وخت پر وخت اسناد کتل سوي، د همږغۍ په موخه د نورو اداراتو سره دایمي اړیکي ساتل سوي او د هغوی د اړتیا پر مهال د ځینو اسنادو او مواردو په برخه کي ورسره همکاري سوې ده. د لوړو زده کړو په برخه کي زیاتي اسانتیاوي د محصلانو او د زده کوونکو لپاره برابري سوي دي، له ښه مرغه په ټولو پوهنتون شموله چارو کي په پوره شفافیت د اصولو په رڼا کي مالي چاري مدیریت کړای سوي دي او راپورونه یې وخت پر وخت د محترم وزارت سره شریک سوي دي.

پورته د ۱۴۰۱ لمریز کال تطبیقي راپور(APR) د افغانستان کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون له لوري ترتیب سوی دی.

والسلام

مولوي شبیراحمد عباس

د افغانستان کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون رئیس